# ملا عمرکه ملا کارمل؟

هلمند، ا. بارکزی

دپاکستان نامتو انگلیسی ژبی ورځپاڼې چه The News International نومیږی
دسږ کال دفبروری دمیاشتی په 24 نیټه خبر راکړچه دافغانستان دطالبانو
مشرملا محمدعمرمجاهد خپل هغو برادرانو ته چه په شمالی او
لویدیزوزیرستان کی فعالیت لری هدایت ورکری د ه چه پر پاکستانی
امنیتی قوتونوباندی خپل ټول یرغلونه ودروی. ملا عمر لږ ی یواستازی
وزیرستان ته واستوله او ورپسی خپل مطلب د یو لیک په تر څ د تحریک
طالبان پاکستان (TTP) مشرانو ته څرګند کړل. د طالبانو مشر ملامحمد
عمر مجاهد د دغه اعلامیې په ترڅ کې پر پاکستاني طالبانو غږکړی، چې
له پاکستاني پوځ سره جګړه بنده کړي اود افغانی طالبانواوالقاعده
سره یو ځای په افغانستان کې دمیشتو بهرنیوځواکونو پرخلاف وسله
پورته کړي.
ملامحمد عمر پدغه پیغام کی د پاکستان د مذهبي ډلومشرانو ته په خپل
لیکلي خطاب کې رسولی دی. چه له مسلمانانو سره جهاد نه دی روا. ده
په خپل پیغام کې ویلي: "پر پاکستاني امنیتي ځواکونو، په قبایلي
سیمو کې د مسلمانانو وژل د مجاهدینو بدنامي ده، دا په افغانستان
کې د ناټو او امریکایي ځواکونو پر وړاندې روان جهاد ته زیان
اړوي". د پاکستان د نیوزانترنشنل ورځپاڼې له مخې، ملامحمد عمر په
وزیرستان کې د پاکستاني طالبانو له دریواړو ډلو، چې په دې وروستیو
کې دISI او ملاعمرپه لمسون په یوه جبهه (TTP)کې سره راغونډې شوې،
غوښتي، چې په افغانستان کې د میشتو بهرنیو ځواکونو پرخلاف ګډ کار
وکړي، ځکه امریکا او ناټو په افغانستان کې دخپلو پوځیانو شمېر
ډېروي.

دملا محمد عمر مجاهد ددغه لیک متن چه پر اخوانی پان اسلامیزم ولا ړ ه ده
اوخپل وطن اوخلك دالقاعده اوISI دګتودقربانی کولو معنی لری،
دببرك کارمل هغه بیانیه ته ورته ده چه پکی وویل: " دوستی افغان –
شوروی شرط وطنپرستی است". دکارمل خبری هم په "پرولتری انترنشنلیزم
" ولا ړ ه وه خو کارمل دخپل عمر په آخرو ور ځوکی یو ایرانی خبریال
سره په مرکه کی ویلی وه چه دهغه باور نه چه پرروسانودرلود سخت
پښیمانه وه.

پاکستانی پو ځ دایران دپخوانی بادشاه دله مینځه تلونه راپدی خواه
دامریکی دحکومت دسیمه ایزژاندارم په ټوګه وظیفه تر سره کوی.
دپاکستان امنیتی ځواکونه په دغه دوره کی خپل معاشونه ا ووسلی
دامریکا دحکومت نه اخلی. خوسره ددی دا پو ځ دخپل اخوانی افسرانوپه
خاطراو لدی کبله چه دملا کارمل د"دوست هیواد" پو ځ ده، "مسلمان"
بلل کیږی . خو دملا عمرمجاهد په نظرنه یوا ځی افغان پوځیان او
پولیس، بلکه افغان ښوونکي، دجماعتونوملایان، داکتران، دلاری جو
ړولوعادی کارکوونکی اوحتی هغه کلیوال چه دخپلی سیمي دماینونوپه
پاکولو کی بوخت دي کافران اومباح الدم ګنل کیږ ی. یوا ځی په 2008
میلادی کال کی په زرګونه تنه ملکی افغان وګړی دطالبانوپه نظامی
فعالیتونه کی ووژل شول خو دملا محمدعمرمجاهد غږ پورته نشوچه دافغان

طالبان، پاکستانی طالبان او القاعده نه وغواړی چه پخپل تخریبی فعالیتونو کی دمسلمان ملی وګړی دژوندساتنی ته پاملرنه وکړ ي.

که ملا محمدعمر مجاهد په ر ښتیاهم یوافغان وای دافغانستان ملی ګتی تر القاعده او ISI ګتی لو ړ ګڼل بایدپدغه شرایطو کی چه امریکا په افغانستان کی دخپل سرتیروشمیردزیاتوالی پلان لری، ټول طالبانو ته ویلی وای چه پرافغان پو ځیانو باندی یرغل بندکړ ی اوددی دپاره چه په افغانستان کی ویجاړونکی جګړ ه ختمه شی اودملکی افغانانو وینه دالقاعده ، ISI ، ناتواو ایتلاف په لاس توی نشی باید دیرژردافغان دولت او ناتوداستازو سره دخارجی پوځونو دوتلو دزمانی پروګرام اودافغانستان دسیاسی استقلال دخوندی کیدو دپاره خبری پیل کړی وای. . ملا عمرپه 1380 کال کی دبن لادن په خاطرافغانستان دجنګ په ډ ګربدل کړ ه اوپدی ډ ول دخاین شمالی ډلی تپلی دبیرته راتګ دپاره لاره اهواره شوه. اوس ملاعمرمجاهد غواړ ی چه پاکستانی طالبان او دالقاعده تر مشری لاندی نورخرابکارقوتونه دافغانستان دویجا ړ و لو دپاره متحد کړی. نتیجه دا شو چه TTP پاکستانی حکومت ته ددایمی اوربند وړاندیز وکړ . آفرین ملا کارمله!

**02-03-09**